**د متحده ایالاتو د نیویارک سویلي ولسوالۍ سیمه‌ییزه محکمه**

x-------------------------------------------------------------------------

په اړه د:

د سپټمبر 11، 2001 ترهګریز بریدونه

<u>حکم</u>

(03 MDL 1570 (GBD) (SN

x

دغه سند لاندنیو پورې اړه لري:

*اشتن، او نور په وړاندې د القاعدې اسلامي څواک، او نور،* شمېره. 02-cv-6977 (GBD) (SN) *بایر، او نور په وړاندې د القاعدې اسلامي څواک، او نور،* شمېره. 02-cv-7236 (GBD) ( (SN

**د طالبانو پر وړاندې د جزیي وروستۍ پرېکړې حکم ورکول**
**د بایر II شکایت کوونکو لپاره چې A, B او C نوملړ کې ذکر شوي دي.**

جورج بي. ډانیلز، د متحده ایالاتو سیمه‌ییز قاضي:

هغه شکایت کوونکي چې د A، B او C شواهدو کې ذکر شوي دي، د تورن طالبانو پر وړاندې وروستۍ حزیي غیابي پرېکړې لپاره اقدام کوي. ECF No. 9843.[1] د شواهدو او د ډوروتیا ابم. کېون، اسکوایر له لوري وړاندې شوي استدلال او په کې شته شواهدو ( ECF No. 9844)، او د طالبانو په وړاندې غیابي پرېکړې په رڼا کې چې مې 12، 2006 (ECF No. 1797) او د دغې محکمې حکم چې طالبان د 9/11 بریدونو اصلي، مرسته کوونکي او هڅوونکي ګڼي (ECF No. 8973 (د R&R ECF No. 8540 منل، د ECF No. 1463 شکایت په اړه بحث کول)) د دغې قضیې ټولو سوانحو سره په ګډه پام کې نیولو سره، د تورن ایران اسلامي جمهوریت په وړاندې غیابي حکم ورکولو څخه وړاندې د *بایر II* شکایت کوونکو په ګډون ( شواهد A، B، C *infra i* وګورئ)، دا په دې ډول

**حکم کوي** چې پورته ذکر شوې قضیه کې دغه پروسه په مناسبه توګه په طالبانو باندې ترسره شي (ECF شمېره. 445، 709 او 735 وګورئ؛ او دا چې

[1] مګر دا چې برعکس یې ویل شوی وي، دلته شامل شوي ټول د ECF حوالې هغو اسنادو ته اشاره کوي چې 9/11 کې د څو ولسوالیو د دعوا دوسیه کې ثبت شوي دي. *د حوالې لپاره د سپټمبر 11، 2001 ترهګریز بریدونه وګورئ،* شمېره. 03-md-1570 (GBD) (SN).

**حکم کوي** چې جزيي وروستۍ پرېکړه د هغو شکايت کوونکو په استازيتوب چې ضميمه شوي شواهد A، B، او C کې پېژندل شوي د طالبانو پر وړاندې ثبت شوه؛ او دا چې

**حکم کوي** چې ضميمه شوي شواهد A کې ذکر شوي شکايت کوونکو ته له دې امله درد او کړاو او اقتصادي زيانونه رسېدلي دي[2]؛ او دا چې

**حکم کوي** چې ضميمه شوي شواهد B او C کې ذکر شويو شکايت کوونکو ته په شواهد B او C کې ټاکل شوي د زيان جبران د خسارې ورکول کېږي؛ او

**حکم کوي** چې د درد او کړاو زيانونه ترلاسه کوونکي د شواهد A شکايت کوونکو ته له پرېکړې وړاندې په کال کې 4.96 سلنه سود، چې په کلنۍ ډول مرکب کېږي، او له سپټمبر 11، 2001 څخه پيل او د پرېکړې تر نېټې پورې ادامه لري ورکول کېږي؛ او له دې سربېره

**حکم کوي** چې اقتصادي زيانونه تجربه کوونکي د شواهد A شکايت کوونکو ته له پرېکړې وړاندې په کال کې 4.96 سلنه سود، چې په کلنۍ ډول مرکب کېږي، چې له «د راپور نېټې» د شواهد A ستون کې ښودل شوې نېټې څخه د پرېکړې نېټې پورې د تطبيق وړ دی؛ او له دې سربېره

**حکم کوي** چې شواهد B او C کې ذکر شويو شکايت کوونکو ته له پرېکړې وړاندې په کال کې 4.96 سلنه سود، چې په کلنۍ ډول مرکب کېږي، او له سپټمبر 11، 2001 څخه پيل او د پرېکړې تر نېټې پورې ادامه لري ورکول کېږي؛ او دا چې

**حکم کوي** چې ضميمه شوې شواهد A کې ذکر شويو شکايت کوونکو ته د ترهګرۍ ضد قانون، 18 U.S.C. § 2333 پر بنسټ د ادعا شوې مقدار درې چنده تاوان ورکول کېږي؛ او دا چې

**حکم کوي** چې ضميمه شوي شواهد A، B او C کې ذکر شوي شکايت کوونکي کولی شي راتلونکې نېټه کې د جزايي او نورو زيانونو چې د محکمې راتلونکې پرېکړې به په کې شاملې وي په موخه غوښتنليکونه ثبت کړي؛ او دا چې

[2] دغه محکمه ډېبوېږ ډي. سواربز ملکيت ته د اقتصادي زيانونو مقدار پخوا د ايران اسلامي جمهوريت پر وړاندې (ECF شمېره. 5775) پر وړاندې ورکړل شوې خسارې سره ورته‌والي په موخه اصلاح کړ. کله چې درې چنده شي، دغه تاوان ($17,177,054) په مجموعي ډول $51,531,162 کېږي.

**حکم کوي** چې هغه شکایت کوونکي چې شواهد A، B، یا C کې ذکر شوي نه دي په هغه صورت کې چې له وړاندې یې ترسره کړې نه وي راتلونکې نېټه کې د زیان تاونونو لپاره غوښتنلیکونه ثبتولی شي.

د محکمې منشي ته لارښوونه کېږي شواهد A، B او C کې ذکر شویو شکایت کوونکو لپاره جزیي وروستۍ غیابي پرېکړه ولیکي. د محکمې منشي ته همداراز لارښوونه کېږي چې د ECF شمېره. 9843 په 03-md-1570، ECF شمېره. 2071 په 02-cv-6977، او 272 په 02-cv-7236 غوښتنې بندې کړي.

نېټه: اکتوبر 28، 2024
نیویارک، نیویارک
داسې پرېکړه وشوه.

George B. Daniels

GEORGE B. DANIELS
United States District Judge

# شواهد A

د 9/11 د متوفی ملکیت

| | شکایت کوونکی، د 9/11 د متوفی د ملکیت شخصي استازی | | | د 9/11 متوفی | | | | | | د ادعا معلومات | | | د درد او کړاو زیانونه | | | اقتصادي زیانونه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی | منځنی | وروستی | لومړی | منځنی | وروستی | 9/11 کې تابعیت | د مړینې نېټه | د 9/11 ساحه | قضیه | شکایت | اصلاحات او بدیلونه | وراندې تاوان | مقدار | درې چنده | راپور | د راپور نېټه | وراندې تاوان | مقدار | درې چنده |
| 1 | جوان | زي. | پارکر | فیلیپ | لاسي | پارکر | متحده ایالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | 5450 at 4 | $2,000,000.00 | $ 6,000,000.00 | 5470-2، پر بنسټ ثبت شوی | 1/8/20 | 5775 at 4 | $ 9,486,305.00 | $ 28,458,915.00 |
| 2 | | A. | | ډیوېډ | سکاټ | | متحده ایالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | 5450 at 4 | $2,000,000.00 | $ 6,000,000.00 | 5470-2، پر بنسټ ثبت شوی | 1/8/20 | 5775 at 4 | $ 17,177,054.00 | $ 51,531,162.00 |
| 3 | مانوېل | تي. | سواریز | | | | | | | | | | | | | | | | | |

# شواهد B

**د زیانونو جبران د خسارې**

| | شکایت کوونکي | | | د 9/11 متوفی | | | | | | د ادعا معلومات | | | د زیانونو جبران د خسارې | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی | منځنی | وروستی | لومړی | منځنی | وروستی | 9/11 کې تابعیت | د مړینې نېټه | د 9/11 ساحه | قضیه | شکایت | اصلاحات او بدیلونه | خپلوي | اسناد | وړاندې تاوان | مقدار | درې چنده |
| 1 | جوان | زي. | پارکر | فیلیپ | لاسی | پارکر | متحده ایالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | مېرمن/خاوند | د تطبیق وړ نه دی | 5073 په 3 | $12,500,000.00 | $ 37,500,000.00 |
| 2 | کارول | اي. | سواریز | ډیوېډ | سکاټ | سواریز | متحده ایالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | والدین | د تطبیق وړ نه دی | 5073 په 3 | $ 8,500,000.00 | $ 25,500,000.00 |
| 3 | مانویل | تي. | سواریز | ډیوېډ | سکاټ | سواریز | متحده ایالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | والدین | د تطبیق وړ نه دی | 5073 په 3 | $ 8,500,000.00 | $ 25,500,000.00 |

# شواهد C

**د زيانونو جبران د خسارې**

| | شکايت کوونکي | | | | د 9/11 متوفی | | | | | | د ادعا معلومات | | | د زيانونو جبران د خسارې | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی | منځنی | وروستی | 9/11 کې تابعيت | لومړی | منځنی | وروستی | 9/11 کې تابعيت | د مړينې نېټه | د 9/11 ساحه | قضيه | شکايت | اصلاحات او بديلونه | خپلوي | اسناد | وړاندې تاوان | مقدار | درې چنده |
| 1 | کرېستېن | ایم. | کارپينټر | متحده ايالات | ډېوېډ | سکاټ | سوارېز | متحده ايالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | خور يا ورور | د تطبيق وړ نه دی | 5073 په 3 | $ 4,250,000.00 | $ 12,750,000.00 |
| 2 | ستېفني | زي. | پارکر | متحده ايالات | فيليپ | ليسي | پارکر | متحده ايالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | اولاد | د تطبيق وړ نه دی | 5073 په 3 | $ 8,500,000.00 | $ 25,500,000.00 |
| 3 | براين | اي. | سوارېز | متحده ايالات | ډېوېډ | سکاټ | سوارېز | متحده ايالات | 9/11/01 | NY | 02-6977 | 03md1570, 1463 | 03md1570, 8721, 8715-3 at 5, 6 | خور يا ورور | د تطبيق وړ نه دی | 5073 په 3 | $ 4,250,000.00 | $ 12,750,000.00 |